مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۳/۱۰/۱۸

# دا مُلا

راشه ورته ګوره دا مُلا څه بې حيا شونن
لاړ د خدای له کوره په بيخي بله هوا شونن
پاتي مسئلي شوې، پاتي ذکر اوتسپي شولې
جوړ په اوړده ږيره دی اخته په ناروا شونن
هغه کار چي ده و حرام کړی ما اوتاته تل
هغه کارلاڅه چي تري نه زيات ده ته رواشونن
تل چي يې بلله د دنيا مينه بېځايه ده
اوس له ما اوتانه ډېر مين دی په دنيا شونن
غواړي امارت، غواړي قدرت اومنصبونه دی
ناست دی په ماڼيو کي دټول وطن پاچا شونن
سترګي يې اخيستي د قدرت مستو نشو دي اوس
هرلورته چي ګوري په يوغم تري مبتلا شونن
ښه شو چي له مخه يې پرده د ټګی لري شوه
ما ته خو رسوا ؤ، ښه شوتاته هم رسواشونن


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ